## د (الف) برخه: په ټولنه د کرهنې د ونډې او ارزښت پېژندنه
## دریم لوست په نني نړۍ کې د زراعتی کار او بار درک او پیژندنه
## Understanding Agribusiness in Today's World

**د زده کوونکو روزنيزي موخي:**

ددي لوست په پایله کي به زده کوونکي لاندي موخو او هدفونو ته ورسيږي:

١. د غذایی صنعت پراختیا یا وسعت.
٢. هغه تاریخی پیښي ( رویدادونه) او میلانونه چی د نني زراعتی صنعت د انکشاف لامل ګرځیدلی دی تشریح او توضیح کړئ.
٣. د انسانانو لومړنی اړتیاوی په ګوته او تشخیص کړئ.
٤. د اقتصادی اساسی مفکورو یعنی غوښتنه او پوره کونه (supply and demand) توضیح.
٥. هغه فکټورونه تشریح کړئ چی د انسانانو پر خوراک، پوښاک او د خوندی کیدو پر ځای (کور) باندی اغیزه کوی.

**د لوست لپاره په نظر کی نیول شوی وخت:** ٢ ساعته

**د سرچینو سپارښتنه :** لاندنی سرچینی کیدای شی ددی لوست د تدریس لپاره ګټوری ثابتی شی.


Cooper, Elmer E. Agriscience Fundamentals and Applications. Albany, New York: Delmar Publishers, 1997. (Unit 32)

Morgan, Elizabeth M., et al. AgriScience Explorations, Second Edition. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 2000. (Textbook, Chapter 16)


**د سامان آلاتو، وسایلو او اړینو تجهیزاتو لست**

سپنی پاڼي د لیکلو لپاره

پراجکتور

پاورپاینټ سلایډونه

شفاف سلایډونه

Timer or Clock وخت سنج یا ساعت

د شاګردانو د کاری پاڼو کاپی

مڼه

بادام

شیرینی

**اصطلاحات:** دغه لاندی اصطلاحات په دغه لوست کی بیانیږی:

1. کاربو هایډریتونهCarbohydrates
2. مشتری یا اخستونکیConsumer
3. اوبه او هوا (جوی اوضاع)Climate
4. ګمرکاتCustoms
5. تقاضا( ضرورت درلودل)Demand
6. ویشونکی  یا توزیع کوونکیDistributor
7. Fiber سپنسی یا الیاف
8. خواړه یا غذاFood
9. د خواړو صنعتFood industry
10. هغه ماشین چی د موادو او محصولاتو د درجی بندی لپاره کارول کیږی.Grader
11. د ریبلو یا راټولولو ماشینHarvester
12. رسنی یا مطبوعاتMedia
13. مغذی او مقوی موادNutrients
14. ټولوونکی ماشینPacker
15. ترجیحات او لومړیتوبونهPreferences
16. پراسسرProcessor
17. تولیدونکی Producer
18. پروټینونه Proteins
19. پرچون خرڅوونکی Retailer
20. د خوندی کیدو ځای Shelter
21. د ژوند کچه Standard of Living
22. برابرول یا رسول Supply
23. د لاری چلوونکی Trucker
24. اوبه Water
25. غونډ پلورونکی Wholesaler

**په زړه پورې میتود او کړنلاره:**

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ، تر څو یوه ټوټه کاغذ په دریو برخو باندې قات کړي او بیا یې بیرته خلاص کړي. زده کوونکو کولای شي د کاغذ پر مخ د قات په نتیجه کې د رامنځ ته شویو کرښو څخه د ستونونو د جلاکوونکو په توګه کار واخلي. زده کوونکي باید یو ددغو کلمو د هر ستون په پورتنۍ برخه کې ولیکي. "اړتیاوې"، "غوښتنې "، او " نه کارول " زده کوونکي کولای شي پدې اړه فکر وکړي چې کومو تولیداتو ته اړتیا لري، د کومو تولیداتو غوښتنه کوي او له کومو تولیداتو څخه هیڅ کار نه اخلي ( دوی یوازې سوچ او فکر کوي لیکنه نه کوي). زده کوونکو ته لارښوونه وکړي چې په یوه دقیقه کې څومره تولیدات چې دوی کولای شي هغه ولیکي، پدې اړه تاسو د ښوونکو په توګه زده کوونکو ته وخت تعین کړئ چې کله دغه فعالیت پیل او کوم وخت یې تم (توقف) کړي. دغه فعالیت په لوالتیا او شوق سره بیان کړي، تر څو زده کوونکي دغه فعالیت ته دیوې سیالۍ او رقابت په سترګه وګوري. دغه ډول احساس او مفکوره زده کوونکي هڅوي تر څو دغه دنده په ښه توګه ترسره او په لوست که فعاله ګډون وکړي. کله چې زده کوونکو دغه تمرین بشپړه کړ، نو په ټولګي کې له زده کوونکو سره د ټولګیوالو لیکنې ګډې او شریکې کړئ. کیدای شي دغه کار داسې ترسره شي چې "اړتیاوې"، "غوښتنې " او " نه کارول " پر یوه تخته باندې ولیکل شي او هر زده کوونکي ته وخت ورکړي چې د ټولګي مخې ته راشي او د هر نوم لاندې پخپل ستون کې یو تولید ولیکي. د ځوابونو په اړه او همدارنګه دغه تولیدات په افغانستان کې د کار او بار سره مرتبط کړي. له زده کوونکو سره مرسته وکړئ تر څو دغه مهم ټکي درک کړي.

١. ټول خلک ورته اساسي اړتیاو او ضرورت لري.
٢. خلک ځینې تولیدات د ځینو نورو تولیداتو په پرتله ډیر غواړي (غوښتنه یې کوي).
٣. ځینې داسې تولیدات هم شته چې یوه برخه خلک ورڅخه استفاده نکوي، ولې نورو خلکو ته د استفادې وړ دي.
٤. د تولیداتو کار اوباری خلک **(businesses)** هڅه او کوښښ کوي تر څو د خلکو د اړتیاو او غوښتنو له اندازې څخه زیات تولیدات ونلري.

## د محتویاتو لنډیز او د لوست کړنلاې او استراتیژیګانې

**لومړی هدف:** د غذایي صنعت پراختیا یا وسعت.

**د زده کوونکو لخوا وړاند وینه:** د غذایي صنعت وسعت او پراختیا تر کومه حده پورې ده.

**I.** **غذایي صنعت (Food industry):** له هغه صنعت څخه عبارت ده چې د غذایي توکو تولید، پراسس، زیرمه، چمتوکونه او ویشنه د ژوندیو موجوداتو د لګښت او مصرف لپاره برابروي. کرهنیزه صنعت ډیر دندې او وظیفې لري:

الف) **تولیدونکي (Producer)،** هغه څوک چې د نباتاتو کرهنه ترسره کوي او د نبات د حاصل

ټولولو او ريبلو پريکړه کوی.

ب) **لهوګر (Harvester)** هغه څوک چې دنبات څخه د خوراک وړ برخې جلا کوی (ټولوی یی).

ت) **دلاری څغلونکی:** هغه څوک دی چې له پټی (مزرعی) څخه تر مشتری پوری د محصولاتو د انتقال دنده په غاړه لری.

ث) **بار تړونکی (Packer):** هغه څوک دی چې صندقونو او کارتنونو کی د محصولاتو د ځای پر ځای کیدو او تړلو دنده پر غاړه لری .

ج) **درجه بندی کوونکی (Grader)** د غذای توکو تازه ګی تر معاینی لاندی نیسی، د تولید اندازه او کیفیت ( ښرنګوالی) تشخیصوی. درجه بندی کوونکی دا په ګوته کوی چی غذایی توکی په کومو معیارونو باندی پلورل کیدای او مصرف کیدای شی.

ح) **پراسس کوونکی (Processor)** پراسسر د غذایی توکو د خرڅلاو څخه مخکی د خوارکی توکو په پاکوالی، جلاکیدنی، اداره او چمتوالی کی مشغول وی.

خ) **توزیع کوونکی (Distributor):** مواد او توکی تر هغه وخته پوری زیرمه کوی تر څو ورته غوښتنه نه وی رسیدلی، کله چې غوښتنه تر لاسه کړی نو مواد د سیمی مارکیټ ته رسوی.

د) **غونډ خرڅوونکی (Wholesaler)** پراسس شوی یا تازه غذایی توکی په ډیره اندازه اخلی او بیا یی په پرچون خرڅوونکو باندی خرڅوی.

ذ) **پرچون خرڅوونکی (Retailer):** او مواد یا توکی نیغ په نیغه په مشتری خرڅوی. پرچون خرڅوونکی د مارکیټ په وروستنی برخه کی قرار لری.

** ددی لپاره چې زده کوونکی پر دغه موخه باندی ښه تسلط او برلاسۍ پیدا کړی، له هغوی څخه غوښتنه وکړی تر څو داسی وګڼی چې ددوی خواړه را روان دی. ددی لپاره چې په ټولګی کی د بحث لاره برابر ه شی، نو له هغوی څخه دا پوښتنه وکړی چې " غذایی توکی له بزګر څخه تر دسترخوانه پوری څرنګه رارسیدلی دی؟" هر پړاو او مرحله ( چې پورته یی یادونه شویده) په ترتیب سره تر بحث لاندی ونیسئ، له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړی تر څو د هری اصطلاح لپاره انځور رسم کړی. که چیری شونی او ممکنه وی د هغه کار اوبار(**businesses**) نوم یاد کړی چی پدغه پروسه کی ونډه او برخه لری. د بحث په بهیر کی له زده کوونکو سره مرسته وکړی چی کله کله ځینی مراحل او پړاونه په پروسه کی شامله نه وی. د بیلګی په توګه که چیری یوه کورنی د اړتیا وړ محصولات پخپله بذروی او تولید نو دغه کورنۍ په پورتنیو پړاونو کی د "ج" او "ذ" پړاوونو ته اړتیا او ضرورت نلری دا هم کیدای شی چی یو تولیدونکی د ټولو پړاوونو دنده او مسوولیت په غاړه ولری.

**دوهم هدف:** هغه تاریخی پیښی ( رویدادونه) او میلانونه چی د ننی زراعتی صنعت د انکشاف لامل ګرځیدلی دی تشریح او توضیح کړئ.

**د زده کوونکو لخوا وړاند وینه :** کومو تاریخی پیښو د ننی زراعتی صنعت په وده او پرمختیا کی برخه اخستی ده؟

**II.** زمونږ تاریخ، له مونږ سره د راتلونکی په درک او فهم کی مرسته کوی. هغه پیښی چی په تیره زمانه کی رامینځ ته شویدی زمونږ د زراعت په ننی کرنلارو کی اغیزه لری.

الف) د وخت په تیریدو سره هغه میتودونه چی د غذایی توکو په تولید کینن کارول کیږی، سباته تغیر او بدلون کوی.

ب) په افغانستان کی هغه فکتورنه چی په زراعتی کنټرول او صنعت باندی اغیزه لری:

١. د کار او بارد علمیاتو لاری چاری.
٢. له نورو هیوادونو سره د راکړی ورکړی میتود.
٣. د محصولاتو په تولید کی له ټکنالوجی څخه ګټه اخستنه

** ددی لپاره چی له زده کوونکو سره مرسته شوی تر څو دوی پدغه موخه او هدف باندی ښه تسلط پیدا کړی، نو له لومړی لوست څخه په استفادی سره د افغانستان د کرهنی په تاریخ پیل او لنډه کتنه وکړئ. پدی اړه چی څرنګه دغو پیښو د غذایی توکو د تولید لاروچارو ته تغیر او بدلون ورکړی او زراعتی کار اوبار یو په بل څه اغیزه لری، پوښتنی وکړئ. وروسته بیا څیړنه او تحقیق وکړئ او دا په ګوته کړئ که کومو فکتورونو په زراعتی صنعت کی څه اغیزه درلوده؟ زده کوونکی پر دریو ګروپونو باندی وویشئ او هر ګروپ ته یوه ځانګړی موضوع وسپارئ.

١. هغه عوامل او فکتورونه چی د کار اوبار د پیلولو په لارو چارو باندی اغیزه او تاثیر کوی.
٢. هغه عوامل او فکتورونه چی د نورو هیوادونو سره د تجارت په څرنګوالی باندی اغیزه او تاثیر کوی.
٣. هغه عوامل او فکتورونه چی د جنسونو په تولید کی د ټکنالوجی په کارونه باندی اغیزه او تاثیر کوی.

کله چی زده کوونکو خپل معلومات بشپړه کړل، له هغوی څخه غوښتنه وکړی تر څو خپل معلومات له ټولګی سره

ګډ او شریک کړی. د هر ګروپ له توضیح او تشریح څخه وروسته پوښتنو او ځوابونو ته وخت ورکړئ تر څو پدې توګه زده کوونکی هغه عوامل او فکتورونه ښه درک کړی چې په زراعتی صنعت کی اغیزه او تاثیر لری.

**دریم هدف:** د انسانانو لومړنی اړتیاوی په ګوته او تشخیص کړئ.
**د زده کوونکو لخوا وړاند وینه:** د انسانانو د بقا و پایښت لپاره باید کومی اړتیاوی پوره شی؟

III. د انسانانو اساسی اړتیاوی عبارت دی له خوراک، پوښاک او کور

الف) دغه اساسی ضرورتونه یا اړتیاوی د انسانو د ژوند ملاتړ او حمایت کوی او انسانانو قوی او مغذی خواړه چمتو کوی تر څو دانسان بدن وده او نمو وکړی، خپل لا ښه کړی او بیا زیږدونه (دمثل تولید) وکړی. همدارنګه دانسان اساسی اړتیاوی (The basic human needs) انسانان له هوا، خطرناکه حیواناتو او له نورو خطراتو څخه په امن کی محفوظ ساتی، پوښاک او کالی اکثره د انسانانو د اغوستنی لپاه په دقیقه توګه تولیدیږی.

ب) **غذا(Food)** هغه جامد او مایع مواد دی چی انسانان له هغه څخه ګټه اخلی او د انسان لپاره د اړتیا وړ مغذی (**Nutrients**) مواد چمتو کوی.

۱) **مغذی مواد (Nutrients)** هغه موادو ته ویل کیږی چی د انسان د ودی، نمو او ژوندی پاتی کیدو لپاره ډیر اړین او ضروری دی. انسانان مغذای مواد د کاربوهایدیټ، پروتین، غوړو، ویټامینونو، معدنی موادو او اوبو په شکل لاس ته راوړ.

الف) **کاربوهیدریت (Carbohydrates)** کاربوهایډیټونه له نشایستی او قند څخه عبارت دی چی بدن یی په انرژی بدلوی.

i. دغه غنم چی د ډوډۍ لپاره ورڅخه استفاده کیږی کاربوهایډیټونه برابروی.

ب) **پروټین (Proteins)** د انسان د بدن د رشد او دوی لپاره ډیر ارزښت او اهمیت لری.

ii. د پسونو او چرګانو غوښی پرټینونه برابروی.

iii. مغز لرونکی میوی هم پروټینونه برابرو، اما په مغزلرونکو میو کی د غوښو په نسبت پروټینونه په کمه اندازه موجود وی.

ت) چربی (وازګه) غوړ د انسان د بدن لپاره انرژی برابروی.

i. غوړ یا وازګه د ډیرو غذایی توکو لکه له غوښی څخه او داسی نورو څخه لاس ته راځی.

ث) **ویټامینونه (Vitamins)** او معدنی مواد (Minerals) دیوه ښه او روغ صحت لپاره اړین او ضروری دی.

i. ویټامینونه او مینرالونه له سابو، میوو، او مغز لرونکو میوو څخه لاس ته راځی.

ii. د څارویو شیدی کلسیم برابروی چی د هډوکو لپاره ډیر مهم معدنی مواد بلل

کیږی.

ج) **اوبه** د غذایی توکو د انتقال لپاره په بدن کی ډیری اړینی او ضروری دی.

ت) **نسج یا سپڼسی (Fiber)** په عمومی توګه هغه موادو او توکو ته ویل کیږی چی پوښاک او د سرپناه لپاره کارول کیږی. سپڼسی یا نسج د حیواناتو او نباتاتو په وسیله تولیدیږی یا جوړیږی. سپڼسی یا نسجونه په مصنوعی او طبیعی توګه لاس ته راځی.

۱. **مصنوعی الیاف** (Synthetic fibers) له بیلابیلو تولیداتو څخه په کارخانو کی جوړیږی لکه پټرولیم.

۲. **طبیعی الیاف یا نسج** (Natural fibers) د څارویو او نباتاتو څخه لاس ته راځی.

ج) **سرپناه (Shelter)** د انسانانو لپاره د اوسیدو ځای ته ویل کیږی. ځینی هغه مواد چی د سرپناه لپاره کارول کیږی عبارت دی له لرګیو څخه.

** ددی لپاره چی له زده کوونکو سره مرسته شوی وی تر څو پدغه هدف او موخه باندی ښه برلاسی پیدا کړی له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړی تر څو ستاسو له تشریحاتو څخه وروسته په لنډه جمله کی هغه بیان کړی. د بیلګی په توګه تاسو وایی چی " د انسانانو د ژوند لپاره اساسی اړتیاوی عبارت دی له خوراک، پوښاک او سرپناه" نو وروسته له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړی چی " د انسانانو لپاره اساسی اړتیاوی کومی دی؟" زده کوونکی ځواب ورکوی چی " خوراک،ٍپوښاک او سرپناه"

وروسته دوام ورکړئ چی دغه اساسی ضرورتونه یا اړتیاوی د انسانو د ژوند ملاتړ او حمایت کوی او انسانانو قوی او مغذی خواړه چمتو کوی تر څو دانسان بدن وده او نمو وکړی، خپل لا ښه کړی او بیا زیږدونه (دمثل تولید) وکړی. همدارنګه دانسان اساسی اړتیاوی **(The basic human needs)** انسانان له هوا، خطرناکه حیواناتو او له نورو خطراتو څخه په امن کی محفوظ ساتی، پوښاک او کالی اکثره د انسانانو د اغوستنی لپاه په دقیقه توګه تولیدیږی. بیا له ټولګی څخه پوښتنه وکړی چی " اساسی اړتیاوی کومی دی؟"

زده کوونکی ځواب ورکوی چی " خوراک،ٍپوښاک او سرپناه"

د معلوماتو تشریح او توضیح ته دوام ورکړئ او له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ تر څو مختلفو پوښتنو ته ځوابونه برابر کړی تر څو پدی توګه زده کوونکی مهم ټکی ذهن ته وسپاری.

**څلورم هدف:** د اقتصادی اساسی مفکورو یعنی غوښتنه او پوره کونه (supply and demand) توضیح.

**د زده کوونکو لخوا وړاند وینه:** کوم عوامل او فکتورنه د انسانانو په پوښاک، خوراک او سرپناه باندی اغیزه او تاثیر کوی؟

**IV.** خلک د خوراک، پوښاک او سرپناه د غوره کولو لپاره خپلواک او اختیار لری. هغوی ځینی شیان خوښوی او ځینی نه خوښوی په ځینی مواردو کی له ترجیحاتو او لومړیتونو**(Preferences)** څخه کار اخلی.

الف) خوراکی توکو او سپڼسی د انسانانو د اړتیا د پوره کیدو لپاره تولیدیږی. که چیری یوه جنس ته

میلان نه وی موجود، نو هيڅ دليل نشته چی هغه جنس توليد شی.

ب) **مشتريان يا مصرف کوونکي (Consumers):** هغه کسان چي توليدات او خدمات خريداري کوي، دغه کسان دغو توليداتو يا خدمتونو ته ځانګړي اړتياوي لري- د مثال په توګه خوراک، پوښاک او کور دا هغه اړتياوي دي چي بايد پوره شي. ډير داسي عوامل او فکتورونه شته چي کولاي شي د توليداتو په انتخاب کي پر مشتريانو باندي اغيزه او تاثير وکړي.

١. **اقليم(Climate)** په يوه سيمه کي پر توليداتو باندي د اوبو او هوا څرنګوالي او نوعيت هم اغيزه او تاثير کولاي شي

٢. **عنعنات يا دودونه (Customs):** د کارونو د ترسره کولو لپاره دثابتي لارو څخه عبارت دي. مشران او لويان ډير خوښوي تر څو هغو توليداتو او شيانو ته د پيرودلو لومړيتوب او ترجيح ورکړي چي دوي پخپلو عمرونو کي خوړلي او استعمال کړيدي.

٣. **د ژوند معيار يا کچه (Standard of living)** د خلکو د آمد او توليداتو څخه عبارت دي چي ددوي لاسرسي ورته کيږي. هغه خلک چي ډيري پيسي لري هغوي مختلف توليدات او په ډول ډول کورونو کي ژوند کول خوښوي.

٤. **مطبوعات يا رسنۍ (Media)** له هغو مؤسساتو او ادارو څخه عبارت دي چي معلومات د عامه وګړو د پوهاوي او خبرتيا لپاره خپروي. دغه مطبوعات يا رسنۍ خلکو ته معلومات او خبرونه خپروي کيداي شي، کيداي شي دغه معلومات او خبرونه دقيق وي يا نه وي، دمثال په توګه کي يوه رسنۍ ددي اعلان وکړي چي هغه خوراک ددغه خوراک په پرتله روغتيا ته ګټه لري، نو خلک به دغه خواړه له هغه بل څخه په ډيره اندازاه واخلي.

*** ددي لپاره چي زده کوونکي پر دغه موخه او هدف باندي ښه تسلط او حاکميت تر لاسه کړي، نو مڼه، بادام او لړ شيرني ( يا کيداي شي کوم بل شي، خو بايد يو شي يي د زلمي خوښ وي او بل يي د عالي ليسي د زده کوونکي خوښ وي) ورښکاره کړئ. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چي کوم يو شي يي خوښيږي؟ دا چي ولي دغه توليد خوښوي له هغوي څخه يي د علت پوښتنه وکړئ چي ولي يي د بل توليد په پرتله خوښوي؟ پدي اړه بحث وکړئ. زده کوونکو ته وخت ورکړئ تر څو د توليد د ګټو په اړه فکر وکړي او پخپل مينځ کي بحث او مناقشه سره وکړي. بيا له کومي خور يا ورور څخه پوښتنه وکړئ چي ددوي خور يا ورور به کوم توليد غوره کاوه؟ ددغو پوښتنو او ځوابونو په رڼا کي بحث پدي اړه پيل کړي چي څرنګه د وخت په تيريدو سره د يوه توليد په انتخاب کي بدلون رامينځ ته کيږي.

**پنځم هدف:** د اقتصادی اساسی مفکورو يعنی غوښتنه او پوره کونه (supply and demand) توضيح.

**د زده کوونکو لخوا وړاند وينه:** د اقتصاد بنستيزه مفکوري تقاضا او عرضه څه شي دي (supply and demand)؟

V. **تقاضا يا غوښتنه (Demand):** د توليد يا خدمت له هغه مقدار او اندازي څخه عبارت ده د کوم لپاره چي مشتريان ميلان لري تر څو يي له مارکيټ څخه په يو معين نرخ يا بيه اخلي.

الف) کله چي نرخونه ټيټ وي نو مصرف کوونکي توليدات په لوړه اندازه سره اخلي او که چيري

نرخونه لوړ وي، نو اخستونکي غواړي چي تولیدات په کمه اندازه واخلي.

ب) ځیني ځانګړي اقتصادي عوامل او فکتورونه دي چي د غوښتني (تقاضا) ګراف کله لوړ او کله ټیټوي.

١. مشتری د مشتري په لومړیتوبونو او ترجیحاتو کي بدلون.

٢. په شخصي آمد او سپما کي بدلون.

٣. په مارکیټ کي د پیرودونکو یا خریدارانو تعداد او شمیره.

II. **عرضه یا رسونه (Supply)** د تولید یا د خدمت د اندازی یا مقدار څخه عبارت دی چی خرڅوونکی لوالتیا او میلان لری تر څو یی په مارکیټ کی په یو معین نرخ باندی خرڅ کړی.

الف) کله چی نرخونه او بیی لوړی وی، نو د تولید خرڅوونکی غواړی چی خپل ډیر تولیدات مارکیټ ته چمتو او برابر کړی. او په ټیټ نرخ کی خرڅوونکی غواړی چی د تولیداتو کمه اندازه مارکیټ ته وړاندی کړی،

ب) ځینی اقتصادی عوامل او فکتورونه ددی لامل ګرځی تر څو عرضه یا وړاندی کونه کمه یا ډیره شی:

١. د تولیداتو په سیستمونو کی بدلون او تغیر.

٢. د اړینو جنسونو نرخ.

٣. د خرڅوونکو شمیره په مارکیټ کی.

*** ددی لپاره چی له زده کوونکو سره مرسته شوی وی تر څو هغوی په دغه هدف باندی ښه حاکمیت پیدا کړی، نو د څلورم هدف په لوست باندی بیا کتنه او بحث وکړی کیدای شی لاندی پوښتنو څخه کار واخستل شی:

١. که چیری مشتریان د بادام په پرتله منې ته غوره والی ورکړی، نو دوی به کوم یو ډیر واخلی؟ (طبعاً منې، ځکه غوښتنه او تقاضا یی لوړه ده)

٢. که چیری د خلکو درآمد او عاید لوړ شی، نو آیا هغوی به د لږ لګښته تولیداتو اخستنی ته ادامه ورکړی او که به د لوړ لګښت تولیداتو په اخستنه پیل وکړی؟ ( دوی به د لوړی بیی او نرخ تولیدات واخلی، نو پداسی حالت کی د قیمتی تولیداتو لپاره تقاضا او غوښتنه لوړیږی، که چیری د لوړی بیی تولید په مارکیټ کی موجود وی. ددی لپاره چی له زده کوونکو سره مرسته شوی وی او هغوی پدغه ټکی ښه پوه شوی وی، نو د مقایسی وړ دوه تولیدات چی بیلابیل نرخونه ولری د بیلګی په توګه ورڅخه کار واخلی.

٣. څوک مارکیټ ته بادام راوړی ( عرضه)؟ ( د بادامو بزګران).

٤. که چیری د بادام تولید آسانه عمل شی، نو عرضه به څنګه وی؟ آیا عرضه ( رسونه) به لوړه شی که ټیټه؟ ( عرضه یا د بادام رسونه به ډیره شی).

٥. د بادام عرضه ولی لوړیږی؟ ( ځکه چی بزګران کولای هغه په آسانی سره تولید کړی او نور خلک به د بادام په تولید باندی پیل وکړی.)

ددی لپاره چی دغه لوست نور هم تقویه شوی وی، نو زده کوونکی باید WS: 3-1. بشپړه کړی.

**بیا کتنه او لنډیز:** داسی پوښتني چمتو کړئ تر څو زده کوونکی د لوست په اهدافو او معلوماتو بیا کتنه وکړی او

هغه تکرار کړی. زده کوونکی په دوو ګروپونو باندی تقسیم کړئ، پاملرنه باید وشی تر څو په ګروپ کی هر زده کوونکی ددی فرصت او وخت تر لاسه کړی تر څو په پوښتنو او ځوابونو کی برخه واخلی. د هر ګروپ له یوه تن څخه غوښتنه وکړئ تر څو د پوښتنو ځوابونه د تباشیر په وسیله پر تخته باندی ولیکی هر زده کوونکی چی سم ځواب پر تخته باندی لیکی د خپل ګروپ لپاره یوه نمره ګټی. باالآخره هغه ګروپ چی ډیری نمری ګټی د لوبی ګټونکی بلل کیږی.

**تطبیق او اجراء:** له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ تر څو د کرهنی په یوه برخه کی څیړنه او تحقیق وکړی. او هغه بدلونونه په ګوته کړی کومو چی په ننی کرهنه باندی اغیزه کړیده.

**ارزیابی:** بیلګه یزه ازموینه ددی لوست سره ضمیمه ده تر څو د زده کوونکو درک او پوهه د لوست د موخو ارزیابی شی.

**بیلګه ایزه ازموینې ته ځوابونه**

**لومړي برخه: تطابق (برابرول)**

1=a, 2=e, 3=d, 4=I, 5=k, 6=b, 7=h, 8=j, 9=l, 10=f, 11=g

**دوهمه برخه: پوره کول**

١. کاربوهیدریت، وازګه یا غوړی
٢. خوراک، پوښاک او کور
٣. هغه ماشین چی د موادو او محصولاتو د درجی بندی لپاره کارول کیږی
٤. مطبوعات یا رسنۍ

**دریمه برخه: لنډ ځواب**

١. څلور مهم فکتورونه د مشتریانو په انتخاب باندی اغیزه کوی چی هغه عبارت دی له: اقلیم، دودونه یا عنعنات، د ژوند کچه او رسنی (مطبوعات)
٢. د زده کوونکو ځوابونه توپیر کولای شی، ولی داډ تر لاسه کړئ چی زده کوونکی پیراونه په ترتیب سره لستوی. تولیدونکی، ریبدونکی، لاری څغلوونکی، تړونکی، نمره کینودونکی، پراسس کوونکی، توزیع کوونکی، غونډ خرڅوونکی، پرچون خرڅوونکی.
٣. د وریښمو لپاره به غوښتنه یا تقاضا لوړه شی او د پنبی لپاره به غوښتنه یا تقاضا کمه شی. ځکه وریښم ډیر په زړه پوری او مطلوب تولید دی او د تیرو وختونو څخه نن سبا دخریداری وړ دی او خلک یی هم خوښوی.
٤. د زده کوونکو ځوابونه توپیر کولای شی.

**بیلګه ایزه ازموینه**
**نوم:** ____________________

امتحان

**په ننی نړۍ کی د زراعتی کار او بار درک او پیژندنه**

**لومړي برخه: تطابق (برابرول)**

**لارښووونه:** لاندي اصطلاح له صحیح ځواب سره برابر کړئ توري(حرف) د تعریف په اساس ولیکئ

الف) عرضه
ب) تقاضا
ت) عنعنات
ث) ترجیحات او لومړی توبونه
ج) غذایی صنعت
ح) اوبه
خ) ترونکی
د) پرچون خرڅونکی
ذ) مغذی مواد
ر) د ژوند کچه
ز) عنعنات
س) کور

______ ۱. د تولید یا خدمت له هغه مقدار او اندازي څخه عبارت ده د کوم لپاره چي مشتریان میلان لري تر څو یي له مارکیټ څخه په یو معین نرخ یا بیه اخلي
______ ۲. تولید، پراسس، ذخیره او غذایی توکو ویشنه
______ ۳. د هغه شیانو په هکله نظریات چی تولیدیږی.
______ ٤. هغه مواد چی د ژوندی موجوداتو د بقا او پایښت لپاره اړین دی.
______ ٥. د کارونو د ترسره کولو لپاره هغه لاری چاری چی له تیرو وختو څخه معمول دی.
______ ٦. د تولید یا د خدمت د اندازی یا مقدار څخه عبارت دی چی خرڅوونکی لوالتیا او میلان لری تر څو یی په مارکیټ کی په یو معین نرخ باندی خرڅ کړی.
______ ۷. هغه ځوک چی جنسونه په نیغه توګه پر مشتری باندی خرڅوی.
______ ۸. د خلکو اوسنی عاید او تولید ته اشاره کوی.
______ ۹. د انسانانو د اوسیدو ځای
______ ۱۰. په بدن کی د غذایی توکو د انتقال لپاره ضروری او اړینی دی.
______ ۱۱. په کارتنونو یا بکسونو کی د جنسونو ځای پر ځای کول تر څو د انتقال لپاره چمتو شی.

**دوهم برخه: پوره کول (تکمیل)**

**لارښووونه :** یوه یاڅو کلمي د لاندي جملو د پوره کولو لپاره وړاندي کړئ

۱. ____________ او ________________ بدن ته انرژی ورکوی

۲. د انسانانو بنسټیزه اړتیاوی عبارت دی له ___________، __________او ____________. څخه

۳. ___________ د جنسونو معاینه کوی او وروسته بیا جنسونو د اندازی او کیفیت پر اساس سورټ کوی.

٤. _____________ عامه وګړو ته معلومات رسوی.

**بیلګیزه ازموینه**

**نوم:**__________________________

**ازموینه**

**په ننی نړۍ کی د زراعتی کار او بار درک او پیژندنه**

**Understanding Agribusiness in Today's World**

**دریمه برخه: لنډ ځواب**

**لارښوونه:** د لاندی معلوماتو برابرولو لپاره بشپړه جملی چمتو کړئ

١. څلور دلیلونه په ګوته کړی چی د مشتری ترجیحات او لومړیتوبونه څرګندوی او د هر یوه لپاره مثال وړاندی کړئ.

٢. یو زراعتی تولید غوره کړئ. ددغه تولید هر پړاو چی له پټی (مزرعی) څخه تر مشتری پوری رامینځ ته کیږی هغه تشریح کړی.

٣. له یوه کال راپدیخوا د ابریښمو د ټوکر نرخ او بیه په لویه پیمانه راټیټ شوی دی او اوس د پنبی له نرخ سره برابر شویدی. دغه عمل د پنبی او ابریښمو په تقاضا څه اغیزه او تاثیر لری؟ ډېر تر لاسه کړی چی ځوابونه سم او بشپړه وړاندی کوی.

٤. یو فکټور په ګوته کړئ چی د صنعتی زراعت په یو د لاندنیو برخو باندی اغیزه یا تاثیر کوی.
   ١. د کار او بار عملیات
   ٢. له نورو هیوادونو سره تجارت.
   ٣. د جنسونو په تولید کی له ټکنالوجی څخه ګټه اخستنه.

**WS: 3-1 د ځواب کیلۍ**

## د غوښتنې او رسونې په مفاهیمو ځان پوهول.

**Understanding Supply and Demand**

**لارښوونه:** لاندې تشریحات په ځیر سره وګورئ او د هرې تشریح لپاره چې په عرضه یا **Supply** باندې اغیزه کوي په خالي ځالي کې د **S** حرف کښیږدئ او په هره تشریح چې په تقاضا(غوښتنه) یا **Demand** باندې اغیزه کوي په خالي ځای کې د**D** حرف کښیږدئ.

__S__ ۱. سږ کال د حشراتو یرغل د بادامو نیم حاصلات له مینځه یوړل.

__D__ ۲. رسنۍ یا مطبوعات اعلانونه چې تنباکو یا دخانیاتو استعمال د سرطاني ناروغۍ لامل ګرځي

__D__ ۳. یوه نوې شرکت په ښار کې کار اوبار پیل کړیدی، دغه شرکت ډیر کارکوونکي ګماري او هغو ته تر هغه ډیره تنخواه ورکوي چې دوی مخکې تر لاسه کوله.

__S__ ٤. دباران غیر عادي اندازې د غنمو حاصل دوه برابر کړ.

__D__ ٥. داسې معلومه شوې چې د چرګانو غوښه د پسونو د غوښې په پرتله روغتیا ته ښه ده، داځکه چې د چرګانو غوښې کمه اندازه وازګه یا غوړ لري.

**لارښوونه:** لاندې پوښتنو ته چې د تقاضا او عرضه د کمیدواو ډیریدو پورې اړه لري ځوابونه برابر کړئ.

٦. له ټراکتورونو، د بذر له ماشینونو او د ریبلو له ماشینونو څخه په پراخه توګه ګټه اخستل کیږي. دغه کار بزګر ته دا لاره برابروي تر څو خپل وخت سپما کړي، دا ځکه چې اوس اوس دوی له خپلې ټولې انرژۍ څخه کار نه اخلي. آیا دغه کار د غنمو د supply د ډیریدو یا کمیدو لامل ګرځي؟ ولې؟

د غنمو رسول یا supply به ډیر شي، ځکه د زراعتي ماشینونو څخه په استفادې سره کولای شو ډیر غنم تولید کړو.

۷. تیر کال د بادامو ۱۰ بزګران موجود ؤ، سږ کال د بادامو ۱۵ بزګران موجود دي. آیا دغه کار د بادامو د رسولو یا supply د ډیریدو یا کمیدو لامل ګرځي؟ ولې؟

د بادامو رسول یا supply به ډیر شي، ځکه چې ډیر بزګران ( خرڅوونکي) مارکیټ ته داخل شویدي.

۸. هغه ښارګوټي چې نږدې موقعیت لري، دهغه نفوس دو برابره شویدي، آیا دغه کار د ډوډۍ لپاره تقاضا یا غوښتنه (demand) ډیروي که یې کموي؟ ولې؟

د ډوډۍ او ټولو غذایي تولیداتو لپاره غوښتنه یا تقاضا ډیریږي، ځکه چې اوس اخستونکي یا مشتریان په مارکیټ کې ډیر شویدي.

۹. د اخستونکو یا مشتریانو لپاره د وزی د غوښی بیه لوړه شویده. دغه کار به د وزی د غوښی په غوښتنه یا تقاضا څه تاثیر او اغیزه وکړی؟ همدارنګه دغه عمل د نورو غوښو لکه د چرګانو د غوښو په غوښتنه او تقاضا باندی څه اغیزه لرلای شی؟

ددی لپاره چی د وزی د غوښی بیه لوړه شویده، نو د وزی د غوښی په وړاندی غوښتنه یا تقاضا کمیږی. د نورو غوښو لپاره چی په ټیټه بیه دی تقاضا ډیریږی، ځکه مشتریان یی له عهدی وتلای شی.

**WS: 3-1 د ځواب کیلۍ**

## د غوښتنې او رسونې په مفاهیمو ځان پوهول.

**Understanding Supply and Demand**

**لارښوونه:** لاندی تشریحات په ځیر سره وګورئ او د هری تشریح لپاره چې په عرضه یا **Supply** باندی اغیزه کوی په خالی ځالی کی د **S** حرف کښیږدئ او په هره تشریح چې په تقاضا(غوښتنه) یا **Demand** باندی اغیزه کوی په خالی ځای کی د**D** حرف کښیږدی.

___ ___ .۱ سږ کال د حشراتو یرغل د بادامو نیم حاصلات له مینځه یووړل.

___ ___ .۲ رسنۍ یا مطبوعات اعلانوی چې تنباکو یا دخانیاتو استعمال د سرطانی ناروغی لامل ګرځی

___ ___.۳ یوه نوی شرکت په ښار کی کار اوبار پیل کړیدی، دغه شرکت ډیر کارکوونکی ګماری او هغو ته تر هغه ډیره تنخواه ورکوی چې دوی مخکی تر لاسه کوله.

___ ___ .٤ دباران غیر عادی اندازی د غنمو حاصل دوه برابر کړ.

___ ___ .٥ داسی معلومه شوی چی د چرګانو غوښه د پسونو د غوښی په پرتله روغتیا ته ښه ده، داځکه چې د چرګانو غوښی کمه اندازه وارګه یا غوړ لری.

**لارښوونه:** لاندی پوښتنو ته چی د تقاضا او عرضه د کمیدواو ډیریدو پوری اړه لری ځوابونه برابر کړئ.

.٦ له ټراکټورونو، د بذر له ماشینونو او د ریبلو له ماشینونو څخه په پراخه توګه کته اخستل کیږی. دغه کار بزګر ته دا لاره برابروی تر څو خپل وخت سپما کړی، دا ځکه چی اوس دوی له خپلی ټولی انرژی څخه کار نه اخلی. آیا دغه کار د غنمو د supply د ډیریدو یا کمیدو لامل ګرځی؟ ولی؟

.٧ تیر کال د بادامو ۱۰ بزګران موجود ؤ، سږ کال د بادامو ۱۵ بزګران موجود دی. آیا دغه کار د بادامو د رسولو یا supply د ډیریدو یا کمیدو لامل ګرځی؟ ولی؟

.٨ هغه ښارګوټی چی نژدی موقعیت لری، دهغه نفوس دو برابره شویدی، آیا دغه کار د ډوډۍ لپاره تقاضا یا غوښتنه (demand) ډیروی که یی کموی؟ ولی؟

.٩ د اخستونکو یا مشتریانو لپاره د وزی د غوښی بیه لوړه شویده. دغه کار به د وزی د غوښی په غوښتنه یا تقاضا څه تاثیر او اغیزه وکړی؟ همدارنګه دغه عمل د نورو غوښو لکه د چرګانو د غوښو په غوښتنه او تقاضا باندی څه اغیزه لرلای شی؟